رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دعاګانو کې جامعې او لنډې خو اغېزمنې دعاګانې غوره ګڼلې او له دې پرته به يې نورې پرېښودلې

له عاېشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دعاګانو کې جامعې او لنډې خو اغېزمنې دعاګانې غوره ګڼلې او له دې پرته به يې نورې پرېښودلې.

[صحيح دی] [ابو داود او احمد روايت کړی دی]

د نبي صلى الله عليه وسلم به هغه دعاوې خوښېدې چې د دنيا او آخرت خير پکې يو ځای شوی وي، الفاظ يې لږ وي خو معنی يې ډېره وي، او د الله تعالى ثناء (ستاېنه) او نېکې غوښتنې پکې وي، او نورې خبرې پکې نه وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5886